# اين ايف سي ايوارډز

# تاريخي خاکه

احسان الله

د مضبوط پارليماني نظام دپاره د صوبو او مرکز تر منځه اتحاد ډېر ضروري دے. د دغه اتحاد ساتلو دپاره د صوبو او مرکز تر منځه د وسائلو صحيح تقسيم پکار وي او دغه اتحاد د ترقي پذيرو ملکونو دپاره د هر څهٔ نه زيات ضروري وي. د پاکستان په رنګ ترقي پذير ملک د دغه اتحاد او د وسائلو د صحيح تقسيم د هر څهٔ نه زيات ضرورت لري ځکه چې دلته څلور صوبې دي او څلورو واړو صوبو کښې مختلف قومونه اوسي نو کله چې د يو قوم حق وهلے شي يا يوې صوبې ته په دغو وسائلو کښې زياته برخه ورکولې شي نو هغوي مجبورېږي چې د احتجاج لاره خپله کړي او دغسې په ملک کښې اړے ګړے جوړېږي. دې سره کهٔ يو خوا مرکز کمزورے کېږي نو بل خوا د صوبې د بېلېدو ويره هم پېدا کېږي چې مونږ سره ئې مثال د بنګله دېش په شکل کښې موجود دے.

د دغې حالاتو نه د بچ کېدو دپاره دا ډېره ضروري ده چې د صوبو او مرکز ترمنځ او بيا د صوبو ترمنځ د وسائلو تقسيم په منصفانه طريقه وشي. اوس سوال دا پېدا کېږي چې دغه تقسيم به څنګه کولے شي؟ آيا دغه تقسيم به د صوبو د ابادۍ په بنياد کولے شي يا د غربت په لحاظ او يا د صوبو د معاشي پېداوار په بنا او کهٔ نه دغه ټول څېزونه به د تقسيم په وخت مخې ته کېښودلے شي او يوه فارموله به جوړولې شي.

د پاکستان جوړېدو نه پس دلته د دې منصفانه تقسيم دپاره د پاکستان حکومت يو فنانس کمېشن د Sir Jeremy Raisman په سربراهۍ کښې جوړ کړو چې د صوبو او مرکز ترمنځه د وسائلو د تقسيم دپاره يوه فارموله جوړه کړي. دغه فارموله هغهٔ په دسمبر1947 کښې وړاندې کړه. د فارمولې مطابق د معاشياتو په ژبه کښې هغهٔ يو Divisible pool جوړ کړو چې د ټولو صوبو ګټه کومه چې د ټېکسونو وغېره نه حاصلېږي، هغه به دې ته راځي. د دغه فارمولې مطابق به د دغې پول نه پنځوس فيصده مرکز ته ورکولې شي او باقي پنځوس فيصده به نورو صوبو له ورکولې شي. د مرکز برخه پکښې ډېره وه ځکه چې د دې مقصد يو مضبوط مرکز جوړول وو. د صوبو د برخو نه 45 فيصد مشرقي پاکستان او باقي پاتې 55 فيصده مغربي پاکستان ته ورکړې شوې. دغه 55 فيصده مغربي پاکستان کښې څهٔ په دې ډول تقسيم کړې شوې چې پنجاب ته 27 فيصده، سندھ ته 12 فيصده، پښتونخوا ته 8 فيصده، بهاولپور ته4 فيصده، خېرپور ته 0.6

فیصده، 0.6 بلوچستان ته او 2.8 فیصد بلوچستان سره تړلې ریاستونو ته ورکړې شوې. دا فارموله په یکم اپریل 1952 کښې نافذ شوه او تر ون یونټ پورې قائمه وه.

په 1955 کښې د ون یونټ جوړېدو نه پس دوه ایوارډونه وړاندې کړې شو یو په 1961 کښې او بل په 1964 کښې. د 1961 ایوارډ لاندې د صوبو 70 فیصده وسائل کوم چې پول ته راغونډ کړي شوي وو دغه په دواړو یونټو تقسیم کړے شو چې پکښې د مشرقي پاکستان 54 فیصده او مغربي پاکستان ته 46 فیصده او د باقي 30 فیصده وسائلو اختیار ئې صوبو له ورکړو.

د 1964 ایوارډ د 1962 د آئین آرټیکل 144 لاندې مقرر شوي نېشنل فنانس کمېشن (NFC) وړاندې کړل. هغوي زیاتره د 1961 ایوارډونه برقرار وساتل او مشرقي پاکستان ته 54 فیصده او مغربي پاکستان ته 46 فیصده ورکړې شو. دا ایوارډونه د ون یونټ د ماتېدو نه پس هم دغسې روان وو. د مغربي پاکستان برخه د څلورو صوبو ترمنځ داسې تقسیم کړې شوه چې پنجاب ته 56.5 فیصد، سنده ته 23.5 فیصد، پښتونخوا ته 15.5 فیصد او بلوچستان ته 4.5 فیصد برخه ورکړې شوه.

د 1970 این ایف سي د 1961 فارموله برقرار وساتله. دلته دا خبره ډېره ضروري ده چې مشرقي پاکستان ته د مغربي پاکستان نه په وسائلو کښې ډېره برخه ورکولې شوه کومه چې د ابادۍ په بنیاد ورکولې شوه. خو کۀ د مشرقي پاکستان وسائلو ته وکتے شي نو د هغوي برخه نوره هم زیاته جوړېده خو مغربي پاکستان ورسره دغه نۀ منله کومه چې مشرقي پاکستان نه د بنګله دېش جوړېدو لویه وجه وګرځېده.

د مشرقي پاکستان جدا کېدو نه پس د باقي پاتې پاکستان د پاره 1973 کښې آئین جوړ کړے شو او د دغه آئین د آرټیکل 160 (1) لاندې نوې کمېشن وټاکلے شو. د دې کمېشن د جوړ کړې ایوارډ عمر پنځۀ کاله وۀ او د کمېشن ممبرانو کښې فیډرل فنانس منسټر، صوبائي فنانس منسټران شامل وو او ورسره د څلورو واړو صوبو نه د یو یو ایکسپرټ چې صدر به د ګورنرانو په مشاورت منتخب کول، هم ملګري وو.

د دې نوي فنانس کمېشن اجلاس په 1974 کښې وشو او د پنځو کالو د پاره ئې د وسائلو تقسیمولو فارموله جوړه کړه. دې کمېشن د وسائلو تقسیم د صوبو ترمنځ د ابادۍ په بنیاد وکړو. د کمېشن مطابق پنجاب ته 60.25، سنده ته 22.50 پښتونخوا ته 13.39 او بلوچستان ته 3.86 فیصده برخه ورکړې شوه. دې ایوارډ کښې د ټولو نه زیاته فائده پنجاب ته وشوه او زیات نقصان سنده ته ورسېدو. پښتونخوا او بلوچستان ته د خپلې برخې نه علاوه 100 ملینه او 50 ملینه ورکړے شو ځکه چې دا صوبې مالي لحاظ سره ډېرې کمزورې وې.

1979 کښې د 1974 ایوارډ وخت پوره شو نو جنرل ضیاء الحق نوے کمېشن د فنانس وزیر غلام اسحاق خان د مشرۍ لاندې جوړ کړو. د بدقسمتۍ نه دغې کمېشن څۀ اجلاس ونۀ کړو او د 1974 فارموله ئې برقرار وساتله. خو د 1981 د مردم شمارۍ نه پس د ابادۍ په تناسب کښې اضافه وشوه نو په ایوارډ کښې هم تبدیلي راغله او د نوي ایډجسټمنټ مطابق د پنجاب برخه 60.25 نه 57.97 ته، د سنده د 22.50 نه 23.34 ته، د پښتونخوا

برخه زړه په زړه يعني 13.39 او د بلوچستان حصه د 3.86 نه 5.30 فيصد ته ورسېده.

په 1985 کښې ضياء الحق نوے کمېشن د فنانس وزير ډاکټر محبوب الحق په مشرۍ کښې جوړ کړو. دې کمېشن په درې کاله کښې نهٔ ميټنګونه وکړل خو د خراب ملکي حالاتو له وجې ئې څهٔ نتيجه راونهٔ وتله او زړه فارموله برقرار وساتلې شوه. په دې کښې د ټولو نه زيات نقصان پښتونخوا صوبې ته وشو ځکه چې وړاندې هم د دې صوبې په برخه کښې زياتے نهٔ وۀ شوے او دا ځل هم زړه په زړه پاتې شوه.

په 1990 کښې د نواز شريف جمهوري حکومت کښې څلورم کمېشن د فنانس منسټر سرتاج عزيز سربراهۍ کښې وټاکلے شو. په اپرېل 1991 کښې دې کمېشن نوې فارموله تياره کړه چې پکښې د صوبو هغه وسائل چې په هغې د دوي اختيار وۀ يعني زراعت باندې ايکسائز ډيوټي ئې هم دغې پول ته ورکړه. دې کښې د ټولو نه زيات نقصان د پښتونخوا صوبې وشو ځکه چې ايکسائز ډيوټي به په دوو لويو فصلونو ګنو او تماکو وه او دا دواړه د دې صوبې لوئي فصلونه وو. دې سره کمېشن د بجلۍ او ګېس سرچارج او په تېلو ايکسائز ډيوټي ئې صوبو ته حواله کړه خو د تقسيم فارموله ئې د ابادۍ په بنياد وکړه. د نوو څېزونو شاملېدو سره د صوبو برخه زياته شوه. د اېوارډ لاندې د صوبو حصه څهٔ په دې ډول جوړه شوه. پنجاب 57.88 ، سندهـ 23.28، پښتونخوا 13.54 او بلوچستان 5.30. د دې نه علاوه صوبو ته د ترقۍ دپاره نورې پېسې هم ورکړې شوې چې پکښې د پنجاب برخه تر درې کالو پورې 1000ملين، سندهـ تر پنځو کالو پورې 700 ملين، پښتونخوا ته د درېو کالو دپاره 200 ملين او بلوچستان ته درېو کالو دپاره 100 ملين ورکړې شوې.

بل اېوارډ د نګران وزير اعظم معراج خالد په دور کښې وشو. هغهٔ په دسمبر1996 کښې د فنانس منسټر شاهد جاوېد برکي په سربراهۍ کښې کمېشن مقرر کړے وۀ او دې کمېشن خپل رپورټ فروري 1997 کښې وړاندې کړو. د دې اېوارډ لاندې تقسيمېدونکي پول کښې څهٔ نور ټېکسونه لکه انکم ټېکس، وېلتهـ ټېکس، کېپيټل وېليو ټېکس، سېلز ټېکس، ايکسپورټ ډيوټي، کسټم ډيوټي، ايکسائز ډيوټي او دغه رنګ نور ټېکسونه کوم چې مرکزي حکومت وصولوي هغه هم په دې کښې شامل کړے شو. باقي په تېلو، بجلۍ او ګېس سرچارج ډيوټي ئې صوبو ته وسپارله. د دې پول نه د وفاق حصه د 20 فيصد نه 62.5 فيصد کړې شوه او د صوبو برخه 37.5 فيصده شوه. دا تناسب په اصل کښې د 1985 په اېوارډ کښې وړاندې شوے وۀ خو عملي شکل ورته دې اېوارډ کښې ورکړے شو. د 1988 مردم شمارۍ سره اېوارډ کښې نورې تبديلۍ هم راغلې. د تقسيم فارموله هم هغه زړه په زړه يعني د صوبو د ابادۍ په لحاظ وشوه. د دې اېوارډ مطابق د پنجاب برخه 57.88، د سندهـ 23.28، د پښتونخوا 13.54 او د بلوچستان 5.30 فيصد ته ورسېده. له دې نه علاوه د خراب معاشي حالت له وجې پښتونخوا ته 3.3 بلين او بلوچستان ته 4 بلين د پنځو کالو دپاره مختص کړې شوې.

په 22 جولايۍ 2000 د پاکستان صدر جنرل پروېز مشرف نوے فنانس کمېشن د فېډرل فنانس منسټر شوکت عزيز په سربراهۍ کښې وټاکلو.

کمېشن يوولس اجلاسونه وکړل خو څۀ نتيجې ته ونۀ رسېدل ځکه چې صوبو د 50 فيصد غوښتنه کوله او د تقسيم فارموله ئې د ابادۍ نه علاوه د نورو څېزونو په بنياد کولو مطالبې کولې چې مرکز ته قبولې نۀ وې نو زړه فارموله ئې برقرار وساتله.

په 21 جولائي 2005 صدر مشرف نوې کمېشن وټاکلو خو د 2000 غوندې د دې هم څۀ نتيجه راونۀ وتله. د صوبو وزراء اعلي د فېصلې اختيار صدر ته وسپارلو. صدر د 1973 د آئين د آرټيکل (1) 160 کښې د آرډيننس 2006 په ذريعه ترميم Distribution of Revenue & Grants-in-Aid order 1997 په نوم وکړو او د نوي ابوارډ اعلان وشو کوم چې د يکم جولايې 2006 نه لاګو شو. د دې ابوارډ لاندې د صوبو برخه 45 فيصد شوه خو په دغې کښې هغه ګرانټ هم شامل کړے شو کوم چې دوي له د خپلې برخې نه علاوه ورکولے شو. ابوارډ کښې دا هم ووئيلي شو چې دا تناسب به د کال 2006 دپاره وي. د صوبو دغه حصه به 50 فيصده ته رسي. د ابوارډ مطابق د پنجاب برخه 57.36، د سندھ برخه 23.71، د پښتونخوا حصه 13.82 او د بلوچستان حصه 5.11 فيصد شوه. په نهم ابوارډ کښې سندھ او پنجاب ته ګرانټ نۀ وۀ ورکړے شوے. په دې کښې پنجاب ته 3.05 بلين او سندھ ته 5.83 بلين ورکړے شو. د پښتونخوا ګرانټ د 3.9 بلين نه 9.71 ته او د بلوچستان د 4.8 نه 9.16 کړے شو.

په 2008 کښې د جمهوري حکومت راتلو نه پس او په جولائي 2010 کښې د تېر شوي ابوارډ وخت پوره کېدو له وجې د نوي ابوارډ خبره راوړاندې کړې شوه. د نوي ابوارډ دپاره کمېشن د وزير خزانه شوکت ترين په سربراهۍ کښې وټاکلے شو. د شوکت ترين نه علاوه په دې کمېشن کښې د څلورو واړو صوبو وزراء خزانه او څلور پرائيويټ ممبران هم شامل وو. دغه پرائيويټ ممبرانو کښې د پښتونخوا نه حاجي محمد عديل، د پنجاب نه عبدالغفور مرزا، د سندھ نه ډاکټر قېصر بنګالي او د بلوچستان نه ډاکټر ګل فراز خان شامل وو. مرکزي حکومت دې نهو تنو له د فارمولې تيارولو دپاره مکمل اختيار ورکړو او 30 ستمبر ئې تاريخ ورکړو چې فارموله تياره کړي خو په دغه ورکړې وخت کښې مسئله حل نۀ شوه او خبره 11 دسمبر ته ورسېده او په 11 دسمبر 2009 د دېارلسو کالو دغه زړه مسئله ډېره په صحيح طريقه حل کړې شوه چې ټولې صوبې پرې خوشحاله دي.

د دې ايوارډ فارموله څۀ په دې ډول ده. د ابادۍ دپاره 82 فيصده، د غربت دپاره 10.3 فيصد، ريوينيو جنرېشن 5.0 فيصد، inverse population density دپاره 2.7 فيصد مقرر شوه. په وړومبي کال به د صوبو وسائل د 47.5 نه 56 فيصد ته رسولے شي کوم چې به وروستو 57.5 فيصد ته رسي. د صوبو منځ کښې د وسائلو تقسيم به څۀ په دې ډول وي. پنجاب 51.74 فيصد، سندھ 24.56 فيصد، پښتونخوا 14.62 فيصد او بلوچستان به 9.09 فيصد وي. په دې ايوارډ څلور واړه صوبې متفق شوې او تر دېرشم دسمبر پورې به دې باندې بلوچستان کښې د دستخط کولو امکان دے چې يوه ډېره د خوشحالۍ خبره ده ځکه چې په ننو حالاتو کښې دا د پاکستان د استحکام دپاره يو ډېر لوئے ګام دے خصوصاً د پښتونخوا دپاره چې د ډېر وخت نه د خپل حق نه محرومه ساتلې شوې ده.